او مبدسمن
د عامو حقوقو مدافع

ombudsman
veřejný ochránce práv

# زه يو ماشوم يم
# او زه د خپل هیواد څخه په بهر کې د امن په لټه کې یم
# یا په اروپا کې د خپلې کورنی په لټه کې یم

دلته په چک جمهوریت کې به موږ به تا سره په اروپا کې دستا د کورنۍ په موندلو کې مرسته وکړو او که چیرې غواړې نو کولای شې چې هغوی پسې لاړ شې.

## دا بروشر یا پاڼې د څه لپاره دي؟

تا بروشر یا پاڼې ترلاسه کړې، ځکه چې

- تا خپل هیواد پریښود،
- کیدای شي چې ته به مرستې او حفاظت ته اړتیا ولرې
- او ته د خپل مور او پلار یا نورو خپلوانو سره نه یې.

**وړ به تا ته تشریح کړو**، چې ولې ته خپل استازی یا سرپرست لرې. نړیوال یا بین المللی محافظت (پناه) څه ته وایي. څه باید وکړې که چیرې وغواړې چې په اروپا کې خپلې کورنۍ پسې لاړ شې، حتی که چیرې نه غواړې او یا نه شې کولې هغوی ته لاړ شې. که چیرې د پناه غوښتنه وکړې نو بیا وروسته به څه وشي. د تا د عریضې په اړه به څوک پریکړه کوي. څومره ژر کولای شي چې خپلې کورنۍ ته ځان ورسوې. تر هغې وخته پورې به څنګه ژوند کوې. ولې موږ دتا د ګوتو نښې اخلو او هغه سره به څه کوو. موږ به دا هم ولیکو چې آیا تا کولی شو ونیسو (بندی) کړو.

**د بروشر یا پاڼو په پای کې** به [د چاروکو اړیکې] پیدا کړې، چې د هغوي څخه کولای شې د مرستې غوښتنه وکړې او د هغو [سازمانونو] اړیکې چې د بهرنیانو په چارو پوهیږي او تا ته به په وړیا توګه مشوره درکړي.

## دوی ولې ماته استازی یا سرپرست راکړو؟ او هغه څه کوي؟

هغه ماشومان چې عمر یې د ۱۸ کالو څخه کم یې هغوی دلته دموږ په هیوا د کې د چاروکو سره په خپله مستقله توګه معامله نه کوي (د لویانو له مرستې پرته). له همدې امله چاروکې یو بالغ کس ټاکې چې هغه به تا سره په ټولو چارو کې مرسته وکړي. داسی یو کس ته موږ استازی یا سرپرست وایو.

هغه به تا ته **مشوره درکړي**. له هغه څخه پوښتنه کوه. که هغه تا ته و نشي کولی مشوره درکړي، کوم بل څوک به در ته پیدا کړی.

هغه به تا سره په هرڅه کې **مرسته** وکړي چې ته ورته اړتیا لرې. دا به تا سره په اروپا کې د ستا د کورنۍ په موندلو کې مرسته وکړي، له هغوی سره په اړیکو نیولو کې او هغوی پسې په تګ کې مرسته وکړي.

**هغه به تا سره وي** کله چې ته د چاروکو سره خبرې کوې. ته کولی شئ په هغه باور وکړې – هغه دلته د تا لپاره دي.

## نړیوال یا بین المللی محافظت (پناه) څه ته وایي؟

نړیوال یا بین المللی محافظت (پناه) پدې معنی ده چې ته کولی شی په **بل هیواد کې په امن کې پاتې شی**، که چیرې د خپل هیواد څخه د جګړې، تعقیب (آزار و اذیت) یا جدي زیان په دلیل څخه تیښتیدلی اوسی. استازی یا سرپرست به تا ته مشوره درکړي چې څنګه د دې لپاره درخواست وکړې .

کیدای شي چې کوم چا تا ته داسی مشوره درکړې اوسی چې یوازې په هغه هیواد کې د پناه غوښتنه وکړه چیرې چې د تا کورنۍ ده، که نه نو خپلې کورنۍ ته نشې کولی لاړ شې. دا په ماشومانو باندې نه پلې کیږي. **په هغه صورت کې که ته په چک جمهوریت کې هم د پناه غوښتنه وکړې، موږ به وګورو چې ته په اروپا کې کورنۍ لرې او موږ به هڅه وکړو چې ته ژر تر ژره هغوی ته ورشې.**

[د جولای میاشتی ۲۰۲۳ کال]
د عامو حقوقو مدافع دفتر، اودولنی ۳۹، ۶۰۲ ۰۰ برنو ښار
Kancelář veřejného ochránce práv, Údolní 39, 602 00 Brno
www.ochrance.cz | podatelna@ochrance.cz
هره رسمی یا کاری ورځ د سهار ۸ بجو څخه تر الی د مازیګر ۴ بجو پورې - دمعلوماتو ورکولو خط ( +۴۲۰ ) ۵۴۲ ۵۴۲ ۸۸۸

## خرنګه به شي که چیرې زه په اروپا کې کورنۍ ولرم او زه وغواړم هغوي ته لاړ شم؟

که چیرې غواړئ خپلې کورنۍ ته لاړ شي چې په کوم بل اروپایي هیواد کې ژوند کوي، **موږ به تا سره د هغوي په موندلو کې مرسته وکړو چې هغوي ته لاړ شي** (موږ به د سفر لګښت ورکړو او هلته به تا له ځانه سره یوسو). دا مهمه نده چې تا د پناه غوښتنه کړې ده او که نه.

**کورنۍ** مور، پلار، ورور، خور، خاله ، ترور، تره، انا، نیکه دي.

د دې لپاره چې موږ وکولی شو هغوي پیدا کړو، **موږ اړتیا لرو چې ته موږ ته د دوي په هکله د امکان تر حده معلومات راکړې**: نومونه یې، عمرونه یې، د تلیفون شمیرې، ایمایل آدرسونه ، پته چیرې چې هغوي اوسیږي، یا هم عکسونه، که درسره اوسي.

کله چې موږ دستا کورنۍ پیدا کړو، موږ به له هغوی څخه پوښتنه وکړو چې آیا ته کولی شې هغوي ته ورشې. که چیرې هغوي موږ ته ووايي چې نشي کولی د تا نه ساتنه یا سرپرستي وکړي، بیا به نو ته دلته زموږ سره پاتې شې – موږ به دلته په چک جمهوریت کې ستا څخه ساتنه وکړو.

## یو چا ما ته وړاندیز وکړو چې زما سره به مرسته وکړي چې خپلې کورنۍ ته لاړ شم. زه باید چې لاړ شم ؟

که چیرې کوم څوک تا ته داسې وړاندیز وکړي چې هغه به تا کورنۍ ته دې ویسي، ولی د دې په مقابل کې پیسې غواړي او یا هم په بدل کې یې باید چې د هغه لپاره کار وکړې، **ډیر محتاط اوسه**.

دا ډول سفر کیدی شي **خطرناک** اوسي. او هم کیدی شي چې خپلې کورنۍ ته ونه رسیږې.

ته کولی شې چې د داسې خلکو په اړه خپل استازی یا چاروا‌کو ته خبر ورکړې.

## زه دلته یوازې یم (زه په اروپا کې کورنۍ نه لرم او یا زه نه غواړم چې هغوي ته لاړ شم)

که چیرې غواړې، **کولی شې چې په چک جمهوریت کې پاتې شې**.

بیا به ته دلته ښوونځي ته لاړ شې، چک ژبه به زده کړې او دلته به ژوند ته دوام ورکړې.

اوس به تاته خواړه هم درکړل شي او دلته به د نورو ماشومانو سره چې دلته یوازې دي اوسیږې.

دا په وړیا توګه دي (ته اړتیا نلرې چې پیسې ورکړې).

## زه نه غواړم په چک جمهوریت کې د محافظت (پناه) غوښتنه وکړم

سره له دې څخه چې نه غواړې دلته د محافظت (پناه) غوښتنه وکړې، **ته معمولا دلته کولی شې چې پاتې شې**.

موږ به دستا لپاره د نورو ماشومانو سره د استوګنې بندوبست وکړو.

## کله چې زه د محافظت (پناه) غوښتنه وکړم، څوک د دې په اړه پریکړه کوي؟ د ډوبلین کړنلاره یا روند څه ته وايي؟

د ستا غوښتنلیک یا عریضې په اړه **د ډوبلین سیستم څخه یو اروپایي هیواد** پریکړه کوي: بلجیم، بلغاریا، چک جمهوریت (موږ)، ډنمارک، ایستونیا، فنلینډ، فرانسه، کروشیا، ایرلینډ، ایټالیا، قبرس، لیتوانیا، لاتویا، لوګزامبورګ، هنګري، مالټا، جرمنی، هالنډ، پولنډ، پرتګال، اتریش، رومانیا، یونان، سلواکیا، سلوانیا، هسپانیه، سویډن، ناروې، آیسلینډ، سویس او لیختنستاین.

**د ډوبلین په روند کې** دا به معلومه شي چې کوم هیواد به د ستا د محافظت (پناه) غوښتنلیک (عریضې) په اړه پریکړه وکړي.

## دا خنګه ټاکل کیږي چې کوم هیواد به پریکړه کوي؟

**که چېرې خپلې کورنۍ ته ځې او موږ هغه پیدا کړو**، دستا غوښتنلیک یا عریضې په اړه هغه **هیواد چې د ستا کورنۍ ته یې اجازه ورکړې چې هلته پاتې شي** پریکړه کوي. موږ به تا هلته یوسو.

د ستا غوښتنلیک یا عریضې په اړه به د **چک جمهوریت** پریکړه وکړي که چیرې په اروپا کې کورنۍ ونه لرئ چې ته هلته ورشې.

## زه به خنګه دلته ژوند وکړم تر څو چې پریکړه وشي؟

په ټوله موده کې به **په وړیا توګه استوګنه، خواړه او ډاکټر** ولرې او کولی شئ **ښوونځي ته لاړ شې**.

## که زه د محافظت (پناه) غوښتنه وکړم نو بیا به څه پیښیږي؟ مرکه یا انترویو

د دې لپاره چې وکولی شو معلومه کړو چې کوم هیواد به دستا د محافظت یا پناه لپاره د غوښتنلیک یا عریضې په اړه پریکړه کوي، **چارواکي به له تا سره مرکه یا انترویو وکړي**. دوی به لومړی تا ته تشریح کړي چې څه غواړي وکړي او تاته به د ستا د حقوقو په اړه معلومات درکړي.

په مرکه کې به یو **ترجمان** موجود وي چې هغه به ټولې خبرې په هغه ژبه ترجمه کړي چې ورباندی پوهیږي. هغه باید ټول هغه څه ترجمه کړي چې ویل کیږي، باید چې هیڅ شی اضافه یا له پامه ونه غورځوي. که چیرې د هغه په ژبه باندی سم نه پوهیږې او یا ګمان کوې چې په سمه توګه ترجماني نه کوي، د دې په هکله چارواکي یا خپل استازي ته ووایه. کولی شې دا رسم کړې یا یې ولیکې. بیا به تا ته بل ترجمان وټاکو. موږ ته د څه ویلو څخه مه وېرېږه – حتی ترجمان هم اجازه نه لري چې چا ته هغه څه ووایي چې په مرکه یا انترویو کې یې اوریدلي دي.

د ستا **استازی یا سرپرست** به تل ستا سره د مرکې یا انترویو پر مهال وي. که چیرې دا استازی یا سرپرست نه غواړې، نو دا چارواکي ته ووایه او موږ به تاته بیا بل استازی یا سرپرست درکړو.

## ایا څوک به زما په هیواد کې خبر شي چې ما به په مرکه یا انترویو کې څه وویل؟

نه. هغه څه چې ته موږ ته وایې هغه به ستا هیواد ته ونه رسیږي، چې تا ته یا ستا کورنۍ ته زیان ونه رسیږي.

## زه به خپلې کورنۍ ته په څومره وخت کې لاړ شم؟

بل هیواد ته د لیږدولو په اړه معمولا **دری میاشتې وروسته** له دې څخه چې دحفاظت ( پناه) غوښتنلیک یا عریضه ورکړل شوه **پریکړه کوو**. له دې سره باید هغه هیواد چې ته هلته خپلې کورنۍ ته ځې موافقه وکړي. دا کیدای شي ډېر وخت ونیسي، مګر اعظمي پنځه میاشتې.

که چیرې د پریکړې سره موافق نه یې، کولی شې اپیل یا استیناف وکړې . د اپیل یا استیناف په برخه کې به له تا سره د ستا استازی یا سرپرست مرسته وکړي.

موږ به بیا تا **ژر تر ژره** د پریکړې (د اپیل یا استیناف) څخه وروسته کورنۍ ته دې یوسو. ولی د شپږو میاشتو په موده کې وروسته د پریکړې څخه. دا ممکن ډیر وخت ونیسي که چیرې زندان ته لاړشې او یا هم وتښتې.

## تاسو ولې زما د ګوتو نښې اخلې ؟ Eurodac (یوروډاک) څه ته وایي ؟

موږ د هر هغه چا څخه د ګوتو نښې اخلو چې لږ تر لږه ۱۴ کلن اوسي. دا بیا موږ په ډیټابیس کې اچوو چې د "یورروډاک" په نامه یادیږي. په دې توګه بیا موږ کولی شو پیدا کړو چې آیا تا له دې څخه مخکې په کوم بل هیواد کې د حفاظت یا پناه غوښتنه کړې ده او که نه.

## کوم معلومات په Eurodac (یورروډاک) کې دي او څوک کولی شي ورته لاسرسی ولري؟

په Eurodac (یورروډاک) کې د ستا د ګوتو نښې دي او هغه معلومات چې ایا ته هلک یې یا نجلۍ.

هلته ستا نوم، عکس، د زیږیدو نیټه او تابعیت (ملت) **شتون نلري**.

Eurodac (یورروډاک) ته یوازې د ډوبلین سیستم هیوادونه لاسرسی لري، د پولیسو او د اروپا د پولیسو اداري په شمول سره، کله چې دوي د جدي جرمونو (د ترووریزم په شمول سره) تحقیق کوي.

**د ګوتو نښې ۱۰ کاله وروسته حذف کیږي** او یا هم ډیر ژر که چیرې د ډوبلین سیستم هیواد تابعیت لاس ته راوړې.

## ایا تاسو کولی شي ما ونیسي - بندی کړي؟

موږ **هغه ماشومان چې عمر یې د ۱۵ کالو څخه کم یې نه نیسو** (نه یې بندی کوو) – موږ به تا په داسې کور کې بندی نه کړو چې له هغه څخه و نشی کولاې ووځې.

**موږ کولی شو چې تا ونیسو، بندی کړو که چیرې:**

- د تا عمر لږ تر لږه ۱۵ کالو پوري یې او چک جمهوریت تهدید کوې، لکه د یوې ترهګرې ډلې غړی په توګه او یا
- د موږ باور را نشي چې دستا عمر د ۱۸ کلونو څخه کم دي او موږ ویره لرو چې ته به وتښتې یا ځان به چیرې پټ کړې.

کله چې موږ تا ته د نورو ماشومانو سره د اوسیدلو لپاره ځای درکوو، باید ځینې مقررات په پام کې ونیسي . د مثال په توګه، احوال ورکوو چې چیرته ځې او کله به بیرته راشې، او د شپې باید چې په کور کې پاتې شې. دا نیول یا بندی کول ندي.

## زه له کومو چاراواکو څخه د مرستې غوښتنه کولی شم؟

هغه اداره چې د ډوبلین د پروسې یا روند مسولیت لري او او د **Eurodac** (یورروډاک) سیستم سرپرست

**Ministerstvo vnitra České republiky**
Odbor azylové a migrační politiky
Oddělení Dublinského střediska
Pošt. schr. 21/OAM, 170 34 Praha 7
(+420) 974 833 167
dublin@mvcr.cz

**د کورنیو چارو وزارت**
د پناهندګۍ او مهاجرت پالیسی ریاست
د ډوبلین مرکز څانګه
پست بکس OAM / ۲۱، ۳۴ ۱۷۰ ، ۷ پراګ

**Úřad pro mezinárodněprávní ochranu dětí**
Šilingrovo náměstí 3/4, 602 00 Brno
(+420) 542 215 522
podatelna@umpod.cz
www.umpod.cz; kids.umpod.cz

**د ماشومانو نړیوالې ساتنې اداره**
شیلینګروو نامنیستې (چوک) ۳/۴، ۰۰ ۶۰۲ برنو

**Úřad městské části Praha 5**
Odbor sociální problematiky a prevence kriminality
Oddělení sociálně právní ochrany dětí
Náměstí 14. října 1381/4, 150 22 Praha 5
(+420) 257 000 437

**د ۵ پراګ ښاری برخې اداره**
د ټولنیزو چارو او جرمونو د مخنیوي ریاست

د ماشومانو د ټولنیز حقوقو ساتنې څانګه
نامنیستې (چوک) ۱۴ رژیین ۱۳۸۱/۴ ) ، ۱۵۰۲۲ ،۵ پراګ

**Český červený kříž**
Rozdělovská 2467/63, 169 00 Praha 6
(+420) 251 104 111
info@cervenykriz.eu

**د چک سور صلیب**
روزدیلوفکه ۶۳ / ۲۴۶۷ ، ۰۰ ۱۶۹، ۶ پراګ

**UNHCR – Úřad vysokého komisaře OSN pro uprchlíky**
Rytířská 31, 110 00 Praha 1
+420 776 437 775
www.unhcr.cz

**UNHCR - د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر دفتر**
ریتیرژسکه ۳۱، ۰۰ ۱۱۰ ، ۱ پراګ

**Mezinárodní organizace pro migraci (IOM) – Praha**
Čechova 23, 170 00 Praha 7
(+420) 233 370 160,
(+420) 233 376 791 (792)
iompraguecom@iom.int
www.iom.cz

**د مهاجرینو لپاره نړیوال سازمان – (IOM) پراګ**
چیخو وا ۲۳، ۰۰ ۱۷۰، ۷ پراګ

**Evropský soud pro lidská práva**
**European Court of Human Rights**
Cedex
67075 Strasbourg, France
+33 (0)388 412 018921/6

**د بشري حقونو لپاره د اروپا محکمه**
**European Court of Human Rights**
څیدیکس
ستراسبورګ ۶۷۰۷۵، فرانسه

## څوک ما سره په وړیا توګه مرسته کوي او مشوره راکوي او د بهرنیانو ستونزو باندې پوهیږي؟

**Poradna pro integraci**
Opletalova 921/6, 110 00 Praha 1
(+420) 603 281 269
praha@p-p-i.cz
www.p-p-i.cz

**د ادغام یا انتګریشن لپاره مشورتي موسیسه**
اوپلیتلو وا ۹۲۱/۶، ۰۰ ۱۱۰، ۱ پراګ

**Poradna pro integraci**
**Ústí nad Labem**
Velká Hradební 33, 400 01 Ústí nad Labem
(+420) 475 216 536
usti@p-p-i.cz
www.p-p-i.cz

**د ادغام یا انتګریشن لپاره مشورتي موسیسه**
**اوستي ناد له بیم**
ویلکه هرادیبني ۳۳، ۰۱ ۴۰۰ اوستي ناد له بیم

**Diakonie Čs. církve evangelické**
Belgická 22, 120 00 Praha 2
+420 242 487 812
info@diakonie.cz
www.diakonie.cz

**د انجلیک چکوسلواک کلیسا ډیاکونیا**
د بلجیم وسپدونکی ۲۲، ۲ پراګ

**Organizace pro pomoc uprchlíkům, Praha**
Poděbradská 173/5, 190 00 Praha 9
(+420) 730 158 779; (+420) 730 158 781
opu@opu.cz
www.opu.cz

**د مهاجرینو لپاره مرستندویه موسسه ، پراګ**
پودیبرادسکه ۱۷۳/۵ ، ۰۰ ۱۹۰، ۹ پراګ

**Organizace pro pomoc uprchlíkům, Brno**
Josefská 8, 602 00 Brno
(+420) 731 928 388; (+420) 731 448 938
opu.brno@opu.cz
www.opu.cz

**د مهاجرینو لپاره مرستندویه موسسه ، برنو**
یوسیفسکه ۸، ۰۰ ۶۰۲ برنو

**د مهاجرینو لپاره مرستندویه موسسه ، پلزن.**
سدی پیت ا ترژیخاتنیکو ۴۸/۳۳، ۳۰۱ ۰۰ پلزن

**Organizace pro pomoc uprchlíkům, Plzeň**
sady Pětatřicátníků 48/33, 301 00 Plzeň
(+420) 604 809 165; (+420) 730 875 627
opu.plzen@opu.cz
www.opu.cz

**د مهاجرینو لپاره مرستندویه موسسه ، اوستراوا**
چسکوبراترسکه ۷/ ۲۲۲۷ ، ۷۰۲ ۰۰ استراوا

**Organizace pro pomoc uprchlíkům, Ostrava**
Českobratrská 2227/7, 702 00 Ostrava
(+420) 604 221 035; (+420) 731 502 661;
pro uprchlíky z Ukrajiny v tísni: (+420) 228 229 942
opu.ostrava@opu.cz
www.opu.cz

**د بهرنیانو د ادغام یا انتګریشن مرکز**
پرنیرو وا ۳۲ / ۱۰ ، ۰۰ ،۱۸۶ ۸ پراګ

**Centrum pro integraci cizinců**
Pernerova 10/32, 186 00 Praha 8
(+420) 704 600 700
info@cicops.cz
www.cicops.cz

**د لیتو منیرژیڅې ښار دیڅیز ني خیریه موسیسه**
**د کډوالو او مهاجرینو لپاره د مشورې مرکز**
کاسموناوتو ۲۰۲۲، ۴۱۲ ۰۱، لیتو منیرژیڅې

**Diecézní charita Litoměřice**
**Poradna pro uprchlíky a migranty**
Kosmonautů 2022, 412 01 Litoměřice
(+420) 416 733 487
(+ 420) 416 731 452
poradenske.centrum@ltm.charita.cz
migrace@dchltm.cz
www.dchltm.cz

**دچک جمهوریت خیریه موسیسه - د بهرنیانو لپاره د ادغام یا انتګریشن مرکز**
شفرژیکو وه ۶۶۶/۹ (د YMCA تعمیر، ۳ منزل)
۵۰۰ ۰۲ هردیڅ کرالووې

**Charita ČR – Integrační centrum pro cizince**
Šafaříkova 666/9 (budova YMCA, 3. patro)
500 02 Hradec Králové
(+420) 492 604 940
poradna.cizinci@hk.caritas.cz
www.cizincihradec.cz

**د پلزن ښار دیڅیز ني خیریه موسیسه**
**د بهرنیانو او کډوالو لپاره د مشورې مرکز**
څوکرو وارسکه ۱۶، ۳۲۶ ۰۰ پلزن

**Diecézní charita Plzeň**
**Poradna pro cizince a uprchlíky**
Cukrovarská 16, 326 00 Plzeň
(+420) 731 433 096
poradna@dchp.charita.cz
www.dchp.cz

**Diecézní charita České Budějovice**
**Poradna pro uprchlíky a migranty**
Kanovnická 18 (1. patro), 370 01 České Budějovice
(+420) 734 435 344, (+420) 732 250 873
cizinci@dchcb.charita.cz
www.cizincicb.charita.cz

**چسکي بوديو ويڅي ښار ديځيز ني خيريه موسيسه**
**د کډوالو او مهاجرينو لپاره د مشورې مرکز**
کانوفنيڅکه ۱۸ (۱ منزل)، ۰۱ ۳۷۰ چسکي بوديو ويڅي

**Arcidiecézní charita Praha**
Londýnská 44, 120 00 Praha 2
(+420) 224 813 418
migrace@praha.charita.cz
praha.charita.cz

**د پراګ ارځيد يځيزنی خيريه موسيسه**
لاندينسکا ۴۴ ، ۰۰ ۱۲۰ ، ۲ پراګ

**Diecézní charita Brno**
**Poradna pro cizince**
Bratislavská 775/58, 602 00 Brno
(+420) 538 700 943
celsuz@brno.charita.cz
www.celsuz.cz

**د برنو ښار ديځيز ني خيريه موسيسه**
**د بهرنيانو لپاره د مشورې مرکز**
براتيسلافسکه ۷۷۵/۵۸، ۰۰ ۶۰۲ برنو

**Sdružení pro integraci a migraci**
Havlíčkovo náměstí 2, 130 00 Praha 3
(+420) 224 224 379; (+420) 605 263 035
(+420) 603 547 450
poradna@migrace.cz
www.migrace.com/

**د ادغام يا انتګريشن او مهاجرت لپاره ټولنه**
ها و ليچکو وو نامنيستی ۲، ۰۰ ۱۳۰ ،۳ پراګ

**InBáze**
Legerova 357/50, 120 00 Praha 2
(+420) 739 037 353
info@inbaze.cz
www.inbaze.cz

**اين بازي**
ليګيرو وا ۵۰ / ۳۵۷ ، ۰۰ ۱۲۰، ۲ پراګ

**La Strada Česká republika**
+420 222 721 810
lastrada@strada.cz
www.strada.cz
www.facebook.com/lastradacr

**La Strada چک جمهوريت**

[د جولای مياشتې ۲۰۲۳ کال]

د عامو حقوقو مدافع دفتر، اودولنی ۳۹، ۰۰ ۶۰۲ برنو ښار
Kancelář veřejného ochránce práv, Údolní 39, 602 00 Brno
www.ochrance.cz | podatelna@ochrance.cz
۸۸۸ ۵۴۲ ۵۴۲ ( ۴۲۰ + ) - دمعلوماتو ورکولو خط هره رسمی یا کاری ورځ د سهار ۸ بجو څخه تر الی د مازيګر ۴ بجو پورې